صاحب امتیاز: مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت
شماره تماس: ۰۲۰۲۱۰۰۶۳۳
ایمیل: info@gmic.gov.af
ویب سایت: www.gmic.gov.af
آدرس: قصر مرمرین، روبروی وزارت خارجه، کابل - افغانستان


# آرگ پانه




شماره 69

د افغانستان اسلامي امارت، د رياست الوزراء مقام د دفتر عمومي رياست، د عامه او ستراتيژيکو اړيکو معاونيت، د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز

د تأسيس کال: ۱۴۴۳ هجري قمري - ۱۴۰۰ هجري شمسي - 2021 ميلادي | د چاپ نېټه: ذوالحجة الحرام ۱، کال ۱۴۴۶ هجري قمري


## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با سفیر چین

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با آقای ژاوشینگ سفیر جمهوری مردم چین در افغانستان...

٥

## يوشمېر کورني پانګوال د حاجي ګګ اوسپنې کان په يو بلاک کې ٦٥٠ میلیون ډالره پانګونه کوي



٦

## اشتراک و سخنرانی معاون اداری ریاست الوزراء در برنامه‌تصدیق‌دهی روش‌های خوب تولید برای صنعتکاران دوایی

٦

## د حکومتی ادارو د ویندویانو او مطبوعاتي کارکوونکو روزنيز ورکشاپ پيل شو



د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز لخوا د حکومتی ادارو ویندویانو، مطبوعاتي او نشراتي ټیمونو د مسلکي ظرفیت...

٥

بسم الله الرحمن الرحیم

## فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی در رابطه به نشر معلومات و تفصیلات لازم پیرامون طرح ها یا پلان های شهری


٦

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د موردوويا له ولسمشر سره وکتل

د رياست‌الوزراء اقتصادي مرستيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کازان ۱۶م نړيوال اقتصادي فورم په څنډه کې د موردوويا جمهوريت له ولسمشر ارتيوم الکسيويچ زدونوف سره وکتل. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دې ليدنې پر مهال وويل، د کازان ۱۶م نړيوال اقتصادي فورم د دواړو هېوادونو ترمنځ د کرنې، سوداګرۍ، برېښنا او نورو برخو کې د همکاريو رامنځته کولو ښه فرصت...

٢

## د افغانستان او روسيې فدراسيون ترمنځ پنځه تفاهمنامې لاسليک شوې



٦

## دیدار معاون اداری ریاست الوزراء با فرهنگیان و فعالین رسانه‌یی ولایات مختلف

محترم مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با جمعی از فرهنگیان و فعالین رسانه‌یی ولایات مختلف کشور دیدار نمود.

در این دیدار ابتدا محترم مولوی نعیم الحق حقانی به نمایندگی...

٥

## د ا.ا.ا. د بهرنيو چارو وزير د ا.ا.ج. له ولسمشر سره وکتل

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنيو چارو سرپرست وزير محترم مولوي امير خان متقي د ايران د اسلامي جمهوريت له ولسمشر محترم ډاکټر مسعود پزشکيان سره وکتل.

په دې ناسته کې د دواړو هېوادونو پر دوو اړخيزو اړيکو او ايران کې مېشتو افغان مهاجرينو په اړه خبرې وشوې.

د ايران ولسمشر دواړه هېوادونه ښه ګاونډيان وبلل او ويې ويل چې هېواد يې چمتو دی په ټولو برخو کې افغانستان سره اړيکې پراخې کړي...

٥

## د رياست الوزرا د دفتر عمومي رئيس د امام بخاري (رح) د زيارت لپاره د افغانستان مجاهد ولس هديه اوزبيکستاني لوري ته وسپارله

د رياست الوزراء مقام د دفتر لوی رئيس محترم الحاج ډاکټر ملا عبدالواسع خادم په مشرۍ پلاوی اوزبيکستان ته ولاړ.

ياد پلاوي د خپل سفر په جريان کې نن د اوزبيکستان د ولسمشر خاص استازي عصمت الله اېرګاشيف او د سرخان دريا ولايت والي اوغلبيک قاسيموپ سره د اوزبيکستان د سرخان دريا ولايت...

٢

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند تاتارستان ته له څلور ورځني رسمي سفر وروسته بېرته کابل ته راستون شو

٦

## د رياست الوزراء اداري مرستيال د ميدان وردګ والي سره وکتل

٦

## د سنو فارما، ملي شفاء او تي‌جي‌ايل درمل جوړولو فابريکې د معياري توليد له امله وستايل شوې

٥

## جلسه بورد ملی غذا و ادویه برگزار شد

٥

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روسيې د لومړي وزير له مرستيال سره وکتل

٥

## د افغانستان – روسيې لومړی سوداګريز فورم پرانيستل شو

٢

## د حکومت د مطبوعاتي ټيمونو اهميت!

په وزارتونو او خپلواکو ادارو کې د حکومت مطبوعاتي ټيمونه نه يوازې د نظام او اړوندې اداري ليدلورو، پروګرامونو او پرېکړو ته انعکاس ورکوي، بلکې رسنيو ته د رڼو او کره معلوماتو د انتقال درووند مسئوليت هم پر غاړه لري.

د حکومت د بېلابېلو ادارو مطبوعاتي ټيمونه د نظام د ځوب ويلو د يوې مهمې پايې په توګه يوازې هغه مهال له رسنيو سره مسئولانه تعامل کولی شي، چې چمتووالی، ريښتينولي، چټکه عمل او پر منځپانګې بشپړ تسلط ولري.

د داخلي همغږۍ ساتل، د ستراتيژيکو پيغامونو لېږد او په عادي او بحراني حالاتو کې د اړيکو مديريت، د دغو ټيمونو له مهمو دندو څخه دي، کوم چې د سالمو او مسئولانه اړيکو د تقويت، د شايعاتو او جعلي خبرونو د مخنيوي او د خلکو د باور او ټولنيز ثبات ترلاسه کولو لامل کېږي.

مولوي نعيم الحق حقاني
د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو مرکز رئيس

## سرمقاله

# معدن حاجیگک: گنجینه‌ای نهفته در قلب افغانستان

نویسنده: حشمت ناصری

معادن افغانستان از جمله ارزشمندترین منابع طبیعی این کشور به‌شمار می‌روند و نقشی حیاتی در توسعه اقتصادی و افزایش درآمد ملی ایفا می‌کنند. افغانستان دارای ذخایر معدنی گسترده و متنوعی همچون لیتیوم، آهن، طلا، مس، کرومیت، لاجورد، نفت و گاز طبیعی است. این منابع می‌توانند زمینه‌ساز رشد صنایع استخراجی، ایجاد فرصت‌های شغلی، افزایش صادرات و رشد اقتصاد ملی باشند. افزون بر آن، توسعه بخش معدن می‌تواند افغانستان را از وابستگی‌ها برهاند و مسیر دستیابی به توسعه‌ای پایدار و باثبات را هموار سازد.

افغانستان کشوری سرشار از منابع طبیعی است که با وجود برخورداری از ذخایر معدنی گسترده، هنوز نتوانسته به‌گونه‌ای مؤثر از این ظرفیت‌ها بهره‌برداری کند. یکی از مهم‌ترین و راهبردی‌ترین معادن این کشور، معدن آهن حاجیگک است. این معدن که در قلب افغانستان، در ولسوالی یکاولنگ ولایت بامیان واقع شده، سال‌هاست مورد توجه زمین‌شناسان و سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی قرار دارد. حاجیگک نه‌تنها از نظر حجم ذخایر، بلکه به دلیل کیفیت بالای سنگ آهن، در زمره‌ی ذخایر استثنایی منطقه به‌شمار می‌رود.

این معدن در رشته‌کوه‌های هزارجات جای گرفته و در حدود ۱۰۰ کیلومتری کابل، پایتخت افغانستان، قرار دارد. حاجیگک به‌عنوان یکی از بزرگ‌ترین ذخایر شناخته‌شده‌ی سنگ آهن در جنوب آسیا، از اهمیت اقتصادی، استراتیژیک و ژئوپلیتیکی قابل‌توجهی برای افغانستان برخوردار است.

فعالیت‌های اکتشافی در این منطقه نخستین‌بار در دهه‌ی ۱۹۳۰ میلادی آغاز شد. در دهه‌ی ۱۹۶۰، گروهی از زمین‌شناسان اتحاد جماهیر شوروی سابق مطالعات جامع‌تری را در این ناحیه انجام دادند و وجود ذخایر عظیم سنگ آهن را تأیید کردند. بر اساس یافته‌های این گروه، معدن حاجیگک دارای ذخیره‌ای بالغ بر ۱.۸ تا ۲ میلیارد تُن سنگ آهن با میانگین عیار حدود ۶۲ درصد است. این معدن شامل ۱۶ زون معدنی مجزا می‌باشد که برخی از آن‌ها تا ۳ کیلومتر طول و ۱۰۰ متر ضخامت دارند؛ ویژگی‌هایی که از نظر حجم و کیفیت، آن را در سطح آسیا به ذخیره‌ای کم‌نظیر مبدل می‌سازد.

افزون بر این، در ترکیب معدنی حاجیگک منابعی از عنصر نادر نیوبیوم نیز شناسایی شده است؛ عنصری راهبردی که در تولید فولادهای مقاوم و پیشرفته کاربرد دارد و ارزش صنعتی و استراتیژیک این معدن را دوچندان می‌کند.

امارت اسلامی با درک اهمیت این پروژه‌ی حیاتی و استراتیژیک، بهره‌برداری از معدن حاجیگک را در زمره‌ی اولویت‌های مبرم خود قرار داده و تلاش نموده است زمینه‌ی جذب سرمایه‌گذاری‌های داخلی و خارجی را در این پروژه‌ی کلیدی فراهم سازد. در همین راستا، اخیراً گروهی از سرمایه‌گذاران داخلی تعهد کرده‌اند که مبلغ ۶۵۰ میلیون دالر در راستای توسعه‌ی این معدن سرمایه‌گذاری کنند.

بر اساس اطلاعات موجود، این سرمایه‌گذاری در چند مرحله انجام خواهد شد که شامل استخراج، فرآوری و توسعه‌ی زنجیره‌ی تولید فولاد می‌باشد. پیش‌بینی می‌شود اجرای این پروژه زمینه‌ساز اشتغال مستقیم برای بیش از ۶هزار نفر شود؛ اقدامی که می‌تواند نقش مهمی در بهبود وضعیت اقتصادی و ارتقای سطح اشتغال در کشور ایفا کند.

با وجود پتانسیل بالای اقتصادی، توسعه‌ی معدن حاجیگک با چالش‌هایی نظیر موقعیت جغرافیایی کوهستانی، فقدان زیرساخت‌های مناسب حمل‌ونقل، و مسائل امنیتی روبه‌رو است.

وزارت معادن و پترولیم تلاش کرده است تا قراردادهایی شفاف‌تر و کارآمدتر برای استخراج و بهره‌برداری از معادن به ویژه معدن آهن حاجیگک تدوین کند، به‌گونه‌ای که زمینه‌ی مشارکت شرکت‌های داخلی و خارجی در این پروژه فراهم گردد. علاوه بر آن، امارت اسلامی در تلاش است با بهبود جاده‌ها و مسیرهای ارتباطی منتهی به معدن، دسترسی به این منطقه‌ی کوهستانی را تسهیل نماید.

افزون بر این، دولت بر تأمین امنیت نواحی معدنی، از جمله حاجیگک ، تأکید ویژه دارد تا فضایی مطمئن برای سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی فراهم شود و از محصولات این معدن، به‌ویژه در صنایع داخلی، بهره‌برداری مؤثر و پایدار صورت گیرد.

بهره برداری از معدن حاجیگک می‌تواند تحولی بنیادین در اقتصاد افغانستان ایجاد کند. این پروژه می‌تواند هزاران شغل مستقیم و غیرمستقیم به وجود آورد، درآمد هنگفتی از محل صادرات فراهم سازد، زمینه‌ساز توسعه‌ی زیرساخت‌های صنعتی و معدنی کشور شود و در نهایت به جذب هرچه بیشتر سرمایه‌گذاری‌های داخلی و خارجی کمک کند.

معدن آهن حاجیگک یکی از فرصت‌های طلایی برای توسعه‌ی اقتصادی افغانستان به‌شمار می‌رود. اگر دولت ضمن تامین امنیت، بتواند زیرساخت‌های لازم را فراهم سازد و زمینه‌ی جذب سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی را مهیا کند، این معدن می‌تواند نقشی اساسی در آینده‌ی اقتصادی کشور ایفا نماید. با مدیریت صحیح و برنامه‌ریزی جامع، معدن آهن حاجیگک توان آن را دارد که از یک ذخیره‌ی خام معدنی، به منبعی پایدار برای تولید، اشتغال‌زایی و شکوفایی اقتصادی بدل شود؛ تحولی که می‌تواند به رونق صنعتی و ثبات اقتصادی افغانستان یاری رساند.#



# محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د موردوویا له ولسمشر...

...برابر کړ. افغانستان دا مهال په مختلفو سکتورونو کې د پانګونې له پاره زیات فرصتونه لري، بهرني پانګوال کولای شي په دغه سکتورونو کې پانګونه وکړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، افغانستان د وچو او تازه مېوو، وطني غالیو، قېمتي ډبرو، مرمر او نورو کاني موادو باکیفیته تولیدات لري، چمتو دي چې په دې برخو کې موردوویا جمهوریت ته صادرات پیل کړي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، همدارنګه موږ لېواله یو چې له موردوویا څخه د برېښنایي وسایلو، ساختماني موادو، صنعتي ماشین آلاتو، نفتي توکو، طبیعي ګاز او خامو المونیمو، ریلي واګونو او ترانسپورټ اړوند وسایلو او تجهیزاتو په برخه کې د کورني ضرورت د رفع کولو په موخه د اړتیا مطابق واردات ولرو. نوموړي همداراز د موردوویا پانګوالو ته په افغانستان کې د صنعت، کانونو او کرنې په برخه کې د پانګونې بلنه ورکړه او هغوی ته یې د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ.

ورپسې د موردوویا ولسمشر ارتیوم الکسیویچ زدونوف خبرې وکړې. هغه وویل، دا لیدنه د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پیل او پراختیا لپاره ښه فرصت ګڼي او موردوویایي پانګوال د افغانستان په مارکېټ کې کار کولو ته چمتو دي. نوموړي زیاته کړه، هېواد یې د طب، کرنې، انرژۍ او درملو تولید په برخو کې ښه پرمختګونه لري او چمتو دي چې په یادو برخو کې له افغانستان سره ګډ کار وکړي.

ښاغلي ارتیوم الکسیویچ زدونوف وویل، موردوویا د کرنیزو محصولاتو په برخه کې ډېرو هېوادونو ته صادرات لري، غواړي افغانستان ته یې هم د موردوویا – قزاقستان – اوزبیکستان – افغانستان له لارې پیل کړي. موردوویایي پانګوالو همداراز په افغانستان کې پانګونې ته لېوالتیا وښوده چې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د اسلامي امارت له لوري د پوره همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ.

د لیدنې پر مهال د افغانستان د صنعت او سوداګرۍ وزیر محترم الحاج نورالدین عزیزي وویل، افغانستان چمتو دی چې د خوراکي توکو، کرنیزو محصولاتو او صنعتي تولیداتو په برخه کې له موردوویا سره په لویه کچه سوداګري پیل کړي. محترم عزیزي زیاته کړه، په دې برخه کې به د افغانستان مهم شرکتونه موردوویایي لوري ته د ګډ کار کولو په موخه ورمعرفي کړي.#

# د ریاست الوزرا د دفتر عمومي رئیس د امام بخاري (رح) د زیارت لپاره د افغانستان مجاهد ولس هدیه...

...په بین المللي مشترک بازار کې جوړو شویو مراسمو کې ګډون وکړ. په پیل کې د افغانستان په چارو کې د اوزبیکستان خاص استازي عصمت الله ایرګاشیف افغان پلاوي ته د ښه راغلاست پرمهال وویل، د اسلامي امارت له واکمنۍ راهیسې د اوزبیکستان او افغانستان ترمنځ کلتوري، اجتماعي، سیاسي، ټولنیزې او اقتصادي اړیکې لا ښې او پیاوړې شوې او دا د سیمې په کچه یو لوی بدلون دی.

نوموړي وویل، اوزبیکستان کوښښ کوي له افغانستان سره مثبتې اړیکې لا ټینګې ، مسایلو ته ژر تر ژره د حل لاره پیدا، تجارت، اقتصاد، ټرانزیټ او نور پرمختګونه پر پوله باندې زیات کړي، چې دا د دواړو هیوادونو په ګټه دي.

ورپسې د ریاست الوزراء مقام د دفتر لوی رئیس الحاج ډاکټر ملا عبدالواسع خادم یادو مراسمو ته په وینا کې وویل، اسلامي امارت د اوزبیکستان په ګډون د سیمې او نړۍ له هیوادونو سره د حسنه اړیکو او په متقابل درناوي ولاړ تعامل غوښتونکی دی. همدارنګه یې د دواړو هېوادونو ترمنځ پر هر اړخیزو اړیکو او د همکاریو پر لاپراختیا ټینګار وکړ. د ریاست الوزرا مقام د دفتر لوی رئیس وویل، د اسلامي امارت له واکمنۍ وروسته په افغانستان کې بشپړ امنیت تامین او په بېلابېلو برخو کې پانګونې ته زمینه برابره شوې، نو هیله ده چې اوزبیکستاني پانګوال د کرنې، روغتیا، کانونو، برېښنا او نورو برخو کې پانګونه وکړي. موږ ورته د لازمو اسانتیاوو او ملاتړ ډاډ ورکوو. نوموړي همداراز د اسلامي امارت د محترم رئیس الوزراء الحاج ملا محمد حسن آخند او د افغانستان د مجاهد ولس له خوا په اوزبیکستان کې د امام بخاري صاحب رحمه الله د زیارت لپاره د افغاني مرمر ډبرو هدیه اوزبیکستاني لوري ته وسپارله.

نوموړي وویل، امام بخاري رح د مسلمة امت رهبر او مقتدا وو ، د دې ستر شخصیت سره د محبت او د ده د خدمتونو د درناوي په موخه د هرات ولایت د چیشت ولسوالۍ اړوند سیمي د کان دغه اعلی او باکیفیته مرمر چې ټولې ۴ زره متره مربع کېږي، هدیه کوو.

ورپسې د بلخ والي محترم الحاج ملامحمدیوسف وفا د اوزبیکستان او افغانستان خپلمنځي ښې دیني، فرهنګي او ټولنیزې اړیکې وستایلې او زیاته یې کړه، په همدې خاطر په ختیځه نړۍ کي بلخ او بخارا د نړۍ په کچه د علم او روښنایي په تاریخ کي ځلانده مشالونه یاد شوي او یادېږي.

هغه زیاته کړه، همدارنګه بلخ او بخارا تر اسلام وروسته د علمي درجو د لوړولو، د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د سننو، احادیثو او اقوالو په راټولولو کي د نړۍ په کچه معتمد او صحیح جوامع لري، لکه صحیح البخاري، صحیح ترمذي او نور.

محتر وفا څرګنده کړه، اوزبیکستان له افغانستان سره د ښه ګاونډیتوب په برخه کې ښې اړیکي پاللي او زموږ له عام ولس سره یې په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه د مرستو زمینه سازي کړې.

د بلخ والي زیاته کړه، د اسلامي امارت تر واکمنۍ وروسته اوزبیکستان خپلې ډیپلوماتیکي اړیکي لوړې کچې ته ورسولې او اقتصادي، سیاسي او فرهنګي برخه کي یې هم خپلې مخلصانه همکارۍ او مراودات جاري ساتلي، چي موږ د افغانستان د اسلامي امارت د بلخ ولایت په استازیتوب ورڅخه مننه کوو.#

# د افغانستان – روسیې لومړی سوداګریز فورم...

...د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند او په اقتصادي چارو کې د روسیې د لومړي وزیر مرستیال محترم الکسي اویرچوک د کازان ۱۶ م نړیوال اقتصادي فورم په څنډه کې د افغانستان – روسیې لومړی سوداګریز فورم پرانیست.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د دغه سوداګریز فورم د پرانیستې پر مهال وویل، د اسلامي امارت له راتګ وروسته په افغانستان کې سیاسي ثبات ټینګ شوی، اقتصادي فعالیتونو پراختیا موندلې، سوداګري پراخه شوې او د کورنیو پانګوالو تر څنګ بهرنیو پانګوالو هم په مختلفو سکتورونو کې پانګونه کړې او دا چاره په ښه ډول روانه ده.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د هېواد د بیارغونې په موخه په مختلفو سکتورونو کې لویې او کوچنۍ پروژې پیل شوې دي. د یادو پروژو چارې د اسلامي امارت تر څنګ د کورنیو او بهرنیو شرکتونو له لوري پر مخ وړل کېږي.

د ریاست‌الوزراء قتصادي مرستیال وویل، اسلامي امارت د زېربنایي پروژو پر پیل سربېره د سوداګرۍ پراختیا ته هم پاملرنه کړې او غواړي سیمې او لیرې پرتو هېوادونو ته د افغانستان د صادراتو لپاره زمینه برابره کړي. روسیه د افغاني تولیداتو او محصولاتو لپاره یو ښه بازار دی. افغانستان په دې برخه کې د اسانه شرایطو د رامنځته کېدو غوښته کوي.

محترم ملا عبدالغني برادر اخوند زیاته کړه، اسلامي امارت چمتو دی چې له روسیې او منځنۍ اسیا سره د سوداګرۍ او ترانزیټ د پراختیا په موخه د سالنګ دوهم تونل وباسي. په دې برخه کې د روسیې فدراسیون تجربې ته په کتو د سالنګ دوهم تونل ایستلو په برخه کې د همکارۍ غوښتنه کوي. محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د افغانستان – روسیې لومړي سوداګریز فورم په پرانیست‌غونډه کې یوځل بیا په شمال – جنوب دهلیز کې د افغانستان پر ونډې اخیستو او همداراز د افغان – ټرانس پروژې پر پیل او تطبیق کې د روسیې فدراسیون پر همکارۍ ټینګار وکړ او وې ویل: موږ لېواله یو چې افغانستان د دې دهلیز په تقویت او په سیمه‌ییز اقتصادي اتصال کې مؤثر رول ولري.

ورپسې د روسیې د لومړي وزیر مرستیال ښاغلي الکسي اویرچوک خبرې وکړې. هغه وویل، روسیه د باثباته او پرمختللي افغانستان طرفداره ده او دا د ټولې سیمې په ګټه بولي. د نوموړي په خبره، د افغانستان وضعیت د بهبود لوري ته روان دی او په کازان ۱۶ م فورم کې د اسلامي امارت د لوړپوړي پلاوي ګډون ثابته کړه، چې افغانان په سوله کې ژوند غواړي او په سوله‌ییزه فضا کې د اقتصادي مسایلو پرمخ بیولو ته چمتو دي.

هغه زیاته کړه، روسي شرکتونه چمتو دي چې له افغانستان سره د کانونو استخراج، اوبو بندونو جوړولو، برېښنا تولید، د اوسپنې پټلۍ شبکو غځولو، د ترانسپورټي وسایلو تولید او همداراز سیمه‌ییز اتصال او سوداګرۍ کچې زیاتېدو په برخه کې ګډ کار وکړي.

ښاغلي اویرچوک وویل، د مسکو او کابل ترمنځ د ګډ سوداګریز مرکز د رامنځته کېدو موافقتنامه لاسلیک شوې، دوی هیله لري چې دا به د دواړو لورو ترمنځ د همکارۍ نوي شرایط او له موجودو امکاناتو به د استفادې لپاره ښه زمینه برابره کړي.

په لیدنه کې د روسیې د ګمرکونو مسئول هم حضور درلود. هغه وویل، د ځانګړو اسانتیاوو او په ګمرکي تعرفو کې د پام وړ تخفیفونو په پام کې نیولو سره چمتو دي چې له افغانستان څخه د کرنیزو محصولاتو واردات زیات کړي. هغه زیاته کړه، غواړي له افغانستان سره د سوداګریزو اصولو ساده کولو، د سوداګریزې بیروکراسۍ له منځه وړلو او په ګمرکونو کې د ځانګړې همکارۍ او کار کولو په موخه پروتوکول رامنځته کړي.

په غونډه کې د روسیې فدراسیون د ټرانسپورټ وزارت مرستیال د افغانستان له لارې د روسیې د ترانزیټ کچې زیاتېدو ته لېوالتیا وښوده او وې ویل، په دې برخه کې د افغان – ټرانس پروژه ډېره مهمه ده، چې روسي او اوزبیکستاني تخنیکي ټیمونه پرې ګډ کار کوي او هدف دا دی چې ژر یې عملي چارې پیل شي. په دې برخه کې اسلامي امارت له خپل لوري د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ. د افغانستان – روسیې سوداګریز فورم په پرانیست‌غونډه کې د تاتارستان د لومړي وزیر مرستیال او د صنعت او سوداګرۍ وزیر هم حضور درلود. د تاتارستان د لومړي وزیر مرستیال د خپلو خبرو پرمهال وویل، د موټر جوړولو تاتارستاني شرکتونه چمتو دي چې په افغانستان کې کار وکړي. تاتارستان چمتو دی چې په دې برخه کې د حکومتونو په کچه د ګډې همکارۍ‌تړون له افغانستان سره لاسلیک کړي. په پای کې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو همکاریو د پراختیا په برخه کې دا ډول اقتصادي فورمونه مهم وبلل او پر دوام یې ټینګار وکړ.

ټاکل شوې چې د کابل او مسکو ترمنځ به د سوداګرۍ کچې زیاتېدو په موخه د کازان ۱۶ م فورم په څنډو کې د دواړو هېوادونو د سوداګرو ترمنځ مهم تړونونه هم لاسلیک شي.#




Issue #69

Publish By:
Government Media and Information Center (GMIC)

Contact Number:
+93 (0) 202100633

Email:
info@gmic.gov.af

Address:
Marble Palace, Opposite to the Ministry of Foreign Affairs, Kabul, Afghanistan

# Afghanistan and the Russian Federation Sign Five Strategic MoUs

...ContP#4

# Domestic Investors Commit $650 Million Investment in a Block of the Hajigak Iron Ore Mine




Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, Deputy Prime Minister for Economic Affairs of the Islamic Emirate of Afghanistan, held a meeting with a delegation of domestic investors at his office.

During the meeting, the investors expressed their readiness to undertake a joint investment of $650 million in three phases for the exploration and extraction of a designated block within the Hajigak iron ore mine. They outlined plans to collaborate with an international partner to conduct professional extraction operations, as well as to establish a state-of-the-art processing facility within Afghanistan equipped with advanced technology and compliant with international standards. The proposed plant will have the capacity to process 9,000 tons of sponge iron daily, converting it into billets, thereby directly generating employment for approximately 6,000 Afghan nationals and fully satisfying the nation's domestic iron requirements.

Deputy Prime Minister Baradar warmly welcomed this significant investment commitment in the mining sector and assured the investors of the Islamic Emirate's full support and cooperation.

He further instructed the Ministry of Mines and Petroleum officials to work closely with the investors and to provide regular updates on the progress of this strategic project. #

# Deputy PM, Concludes Official Visit to Tatarstan and Returns to Kabul



Following a four-day official visit to the Republic of Tatarstan in the Russian Federation, the Deputy Prime Minister for Economic Affairs, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, has returned to Kabul.

The visit was undertaken to participate in the 16th Kazan International Economic Forum. Speaking to the media upon his arrival at Kabul International Airport, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund noted that during the visit, he held constructive and high-level meetings with the President of the Republic of Tatarstan and the President of the Republic of Mordovia, focusing on matters of mutual political, economic, and commercial interest. The Deputy Prime Minister further stated that he also met with two Deputy Prime Ministers of the Russian Federation. Discussions during these meetings centered on enhancing bilateral trade between Afghanistan and Russia, attracting Russian investment to Afghanistan, and establishing frameworks for joint economic cooperation across multiple sectors.

He added that the Afghanistan–Russia Business Forum was inaugurated during the visit, where five significant Memoranda of Understanding were signed. These agreements aim to strengthen collaboration in transportation, transit, bilateral trade, and private sector partnerships between the two countries. He described the visit as highly productive and underscored its tangible outcomes. It is noteworthy that the 16th Kazan International Economic Forum attracted participation from senior officials representing approximately 90 countries and more than 20,000 companies from around the world. #

# Deputy PM Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund Meets with President of Mordovia

During the 16th Kazan International Economic Forum, Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, Deputy Prime Minister for Economic Affairs of the...ContP#4

# Inauguration of the First Afghanistan–Russia Business Forum



On the sidelines of the 16th Kazan International Economic Forum, the first Afghanistan–Russia Business Forum was officially inaugurated by...ContP#4

# Deputy PM Meets Ambassador of the People's Republic of China

Mawlawi Abdul Salam Hanafi, Deputy Prime Minister for Administrative Affairs of the Islamic Emirate of Afghanistan, met with Mr. Zhao Xing, Ambassador of the People's Republic of China to Afghanistan, accompanied by his delegation.

The meeting, held with the objective of enhancing bilateral relations and expanding cooperation between Afghanistan and China, saw Ambassador Zhao Xing emphasize the longstanding friendly ties between the two nations. He noted that these relations have consistently developed positively across various sectors over the years and continue to deepen.

The Ambassador commended the Islamic Emirate's effective management of refugee affairs, particularly the repatriation of Afghan refugees from neighboring countries. He further announced China's provision of 160 ready housing units and a financial assistance package amounting to 30 million yuan to support Afghan refugees, affirming China's ongoing commitment to aid the Afghan people across multiple sectors.

Ambassador Zhao also highlighted the keen interest of Chinese investors and enterprises in Afghanistan, stating that such investments would generate significant employment opportunities for the Afghan population.

In response, Mawlawi Abdul Salam Hanafi expressed his appreciation for the meeting and China's support for Afghan refugees displaced from neighboring countries.

He affirmed that the bilateral relations between Afghanistan and China are robust and friendly, with the Islamic Emirate committed to further strengthening cooperation in various fields.

Mawlawi Hanafi also underscored Afghanistan's abundant natural resources and mineral wealth, highlighting the country's considerable investment potential. He assured that the Islamic Emirate welcomes foreign investment and is prepared to provide necessary facilitation and incentives to investors and companies.

In conclusion, the Deputy PM reiterated the Islamic Emirate's aspiration to maintain positive relations and constructive engagement with all countries, particularly the People's Republic of China.

Notably, Ambassador Zhao extended an official invitation from the Chinese government to Mawlawi Abdul Salam Hanafi to participate and deliver a speech at the 9th China-South Asia Expo. #

# Hajigak Mine: A Hidden Treasure in the Heart of Afghanistan

**By: Hashmat Nasiri**

Afghanistan's mineral wealth represents one of the country's most valuable natural assets, holding immense potential for driving economic development and increasing national revenue. The nation boasts a rich and diverse array of mineral resources including lithium, iron, gold, copper, chromite, lapis lazuli, oil, and natural gas that, if properly harnessed, could lay the foundation for a thriving extractive industry, generate employment, boost exports, and stimulate sustainable economic growth. Moreover, the strategic development of the mining sector offers Afghanistan a pathway toward reduced dependency and greater economic self-reliance.

Despite its vast mineral endowments, Afghanistan has yet to effectively capitalize on its geological potential. Among its most significant and strategically important deposits is the Hajigak iron ore mine. Located in central Afghanistan in the Yakawlang District of Bamyan Province, Hajigak has long been the focus of interest from both domestic and international geologists and investors. Distinguished not only by the scale of its reserves but also by the high grade of its iron ore, Hajigak is considered one of the premier iron ore deposits in the region.

Nestled in the Hazarajat mountain range approximately 100 kilometers from Kabul, the nation's capital, Hajigak ranks as one of the largest known iron ore reserves in South Asia. It carries substantial economic, strategic, and geopolitical significance for Afghanistan.

Exploration in the Hajigak region began in the 1930s, with more detailed geological surveys conducted in the 1960s by Soviet geologists. These studies confirmed the presence of vast iron ore reserves, estimated at between 1.8 and 2 billion metric tons with an average iron content of approximately 62%. The deposit comprises 16 distinct mineralized zones, some extending up to 3 kilometers in length and 100 meters in thickness; characteristics that distinguish it as a uniquely valuable resource in the Asian context.

In addition to its iron content, the Hajigak formation contains traces of niobium—a rare and strategic element used in the production of high-strength, advanced steel alloys. This discovery further enhances the industrial and strategic value of the deposit.

Recognizing the vital importance of this resource, the Islamic Emirate has prioritized the development of the Hajigak mine, actively seeking to attract both domestic and international investment. Recently, a consortium of Afghan investors committed $650 million toward the mine's development.

This investment is expected to unfold in several phases, encompassing extraction, processing, and the establishment of a vertically integrated steel production chain. The project is anticipated to create over 6,000 direct jobs, thereby playing a transformative role in enhancing employment and strengthening Afghanistan's economic landscape.

However, the development of Hajigak is not without its challenges. These include its remote mountainous location, the absence of adequate transportation infrastructure, and security concerns.

In response, the Ministry of Mines and Petroleum has worked to draft more transparent and efficient contractual frameworks aimed at facilitating private-sector participation, both domestic and international. Concurrently, the government is prioritizing infrastructure development—particularly the improvement of road networks and logistical access to the region—to support large-scale mining operations.

Security remains a critical focus, with the government placing special emphasis on ensuring the safety of mining zones such as Hajigak. The goal is to create a secure and stable environment conducive to sustained investment and efficient resource utilization, especially in support of domestic industrial development.

The successful exploitation of the Hajigak mine could mark a turning point for Afghanistan's economy. Beyond job creation and increased exports, the project has the potential to catalyze the development of national industrial infrastructure and attract further investment across multiple sectors.

As one of the most promising opportunities for Afghanistan's economic advancement, the Hajigak iron ore mine could serve as a cornerstone for long-term development. If the government can ensure security, establish the necessary infrastructure, and foster an investor-friendly environment, this resource has the potential to transition from a dormant mineral deposit into a dynamic driver of production, employment, and economic prosperity—contributing significantly to Afghanistan's industrial growth and long-term economic stability. #



# Inauguration of the First Afghanistan–Russia Business...

...Mullah Abdul Ghani Baradar Akhund, Deputy Prime Minister for Economic Affairs of the Islamic Emirate of Afghanistan, and Alexey Overchuk, Deputy Prime Minister of the Russian Federation.

In his address, Mullah Baradar highlighted Afghanistan's political stability and growing economic activity under the Islamic Emirate. He noted increased domestic and foreign investment, and the launch of major development projects across sectors. He emphasized Afghanistan's commitment to trade expansion and regional integration, identifying Russia as a key market for Afghan exports and calling for more favorable trade conditions.

He announced Afghanistan's readiness to construct a second Salang Tunnel to support regional trade and transit, and requested Russian technical assistance. The Deputy Prime Minister also called for collaboration on the Afghan-Trans Project and reaffirmed Afghanistan's interest in contributing to the North–South Transport Corridor.

Overchuk reiterated Russia's support for a stable, economically integrated Afghanistan, and affirmed Russian companies' readiness to invest in key sectors including mining, energy, transport, and infrastructure. He also announced the signing of an agreement to establish a Joint Trade Center in Moscow to facilitate bilateral commerce.

